# 126

# سُنَّتونه او آداب

پښتو




شیخ طریقت، أمیر أهلِسُنّت، باني دعوتِ إسلامي، حضرت علّامه مولانا أبو بِلال

مُحَمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

دا مضمون د کتاب " 550 سُنَّتیں اور آداب" د مختلفو مقاماتو نه اخستے شوے دے.

# 126 سُنَّتونه او آداب

## درود پاک فضیلت

يو ځلمي د کعبې د طواف کولو په وخت صرف درود شريف لوستل، چا هغه ته اووئيل: آيا تا له د طواف کولو بله يوه دعا نه درځي يا بله څه خبره ده؟ هغه اووئيل: دعاګانے خو راځي خو خبره دا ده چې زه او زما پلار صاحب دواړه د حج د پاره راوتلي وو، پلار صاحب مې په لاره کښې ناروغه شو او وفات شو، د هغه مخ تور شو، سترګې ئې کږې شوې او خيټه ئې اوپړسيده! ما ډير اوژړل او اومې وئيل: اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ کله چې شپه شوه نو زما سترګې ورغلې، زه اوده شوم نو ما په خوب کښې سپينو جامو والا يو مُعَطَّر ښکلے ښائسته هستئ زيارت اوکړو. هغوئي زما د پلار صاحب د لاش خواته تشريف راوړو او خپل نوراني لاس ئې د هغه په مخ او خيټه راښکلو، د سترګو په رپ کښې زما د مرحوم پلار مخ د پئيو نه زيات سپين او پړقيدونکے شو او خيټه ئې هم خپل اصلي حالت ته راغله. کله چې هغه بزرګ واپس روان شو نو ما د هغوئي پاکه لمَن اونيوله او عرض مې اوکړو:

يا سيِّدي ! (يعني اے زما سرداره!) ستا دې په هغه ذات قسم وي چا چې ته دې څنګل ته زما د مرحوم پلار د پاره رحمت راليږلې ئې، تاسو څوک ئې؟ اوئې فرمائيل: ته ما نه پيژنې؟ زه خو **مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله** (صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) يم، ستا دا پلار ډير ګنهګار وو خو په ما به ئې ډير درود شريف لوستلو، کله چې په ده دا مصيبت راغے نو ماته ئې فرياد اوکړو څکه ما د ده فرياد واوريدو او امداد مې ئې اوکړو او زه د هغه ګس فرياد اورم او امداد ئې کووم څوک چې په دنيا کښې په ما زيات درود وائي. (روض الرياحين، ص 125)

فرياد اُمّتی جو کرے حالِ زار میں ممکن نہیں کہ خیر بشر کو خبر نہ ہو

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د "اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ" د 11 حروفو په نسبت

## د سلام 11 سُنَّتونه او آداب

**(1)** مسلمان سره د ملاقات په وخت سلام کول سُنَّت دي. (اسلامي خويندې دې هم اسلامي خويندو او محارِمو ته سلام کوي) **(2)** "د سلام کولو په وخت دې دا نِيَّت وي چې چا ته سلام کووم د هغه مال او عِزَّت هر څه زما په حفاظت کښې دي او زه په دې کښې د يو څيز هم مداخلت کول حرام ګنړم"[1] **(3)** ورځ کښې چې څومره ځله هم مخامخ کيږئ، يوې کوټے وغيره

[1]… بهار شريعت، 459/3 بالتصرف

ته بيا بيا تلل راتلل وي هلته موجودو مسلمانانو ته سلام كول د ثواب كار دے. **(4)** سلام كښې وړاندې والے (يعني اول سلام) كول سُنَّت دي. **(5)** سلام كښې وړاندې والے كوونكے د الله پاک مُقَرَّب (يعني د الله نزدې بنده) دے. **(6)** سلام كښې وړاندې والے كوونكے د تكبر نه هم بَرِي (يعني آزاد) دے. څنګه چې د خوږ آقا، مكي مَدَني مُصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: په اول سلام كښې وړاندې والے كوونكے د تكبر نه بَرِي دے.[1] **(7)** په سلام كښې وړاندې والے كوونكي باندې 90 رحمتونه او په جواب وركوونكي 10 رحمتونه نازليږي.[2] **(8)** اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ (يعني په تا دې سلامتيا وي) وئيلو سره 10 نيكئ ميلاويږي. ورسره وَرَحْمَةُ اللّٰهِ (او د الله پاک رحمت وي) هم اووائي نو 20 نيكئ به شي. او "وَبَرَكَاتُهُ" (او د هغه بركتونه وي) شامل كړي نو 30 نيكئ به شي. بعضې خلق د سلام سره د "جَنَّتُ المَقَام او دوزخُ الحرام" الفاظ زياتوي، دا غلطه طريقه ده او دا جمله لُغَةً هم غلطه ده. بعضې ناپوهه خو مَعَاذَاللّٰه په توقو كښې تر دې پورې وائي: "ستا بچي زمونږه غلامان."

امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په "فتاوٰى رضويه" جلد 22 صفحه 409

1…شعب الايمان، 433/6، حديث: 8786
2…كيمياۓ سعادت، 394/1

فرمائي: کم از کم اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ او د دې نه غوره وَرَحْمَةُ اللّٰهِ ورسره وئيل او د ټولو نه غوره وَبَرَكَاتُهٗ شاملول او د دې نه زيات څه نشته. هغه (يعني سلام کوونکي) که اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ اووئيلو نو دے دې په جواب کښې وَعَلَيْكُمُ السَّلامُ وَرَحْمَةُ اللّٰه اووائي. او که چرې هغه اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ اووئيل نو دا دې وَعَلَيْكُمُ السَّلامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اووائي او که چرې هغه د وَبَرَكَاتُهٗ پورې اووئيل نو دا دې هم دومره اووائي او د دې نه زيات نشته دے. وَاللّٰهُ تَعالٰى اَعْلَمُ **(9)** دغه شان په جواب کښې د وَعَلَيْكُمُ السَّلامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ وئيلو سره 30 نيکئ حاصيليدے شي. **(10)** د سلام جواب سمدستي او په دومره آواز کښې جواب ورکول واجب دي چې سلام کوونکے ئې واوري. **(11)** د سلام او د سلام د جواب صحيح تَلَفُّظ ياد کړئ. اول ئې زه وايم او تاسو ئې واورئ او بيا ئې اووائي: اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ (اَس. سَلا. مُ. عَلَیْ. کُمْ) اوس زه اول جواب وايم بيا ئې تاسو اووائي: وَعَلَيْكُمُ السَّلام (وَ. عَ. لَیکُ. مُس. سَلام).

رضائے حق کیلئے تم سلام عام کرو سلامتی کے طلب گار ہو سلام کرو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د لاس ميلاوهلو 14 سُنَّتونه او آداب

**(1)** د دوؤ مسلمانانو د ملاقات په وخت په دواړو لاسونو سره مُصافَحَه کول يعني دواړه لاسونه ميلاوهل سُنَّت دي **(2)** د لاس ميلاوهلو نه مخکښې

سلام اوکړئ **(3)** د رخصتيدو په وخت هم سلام اوکړئ او دي سره لاس هم ميلاوهلے شئ **(4)** خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "کله چې دوه مسلمانان د ملاقات په وخت مُصافَحَه کوي او د يو بل خيريت معلوموي نو الله پاک د دوئي په مينځ کښې 100 رحمتونه نازلوي کومو کښې چې 99 رحمتونه په ښه طريقه د ميلاويدونکي او په ښه طريقه د خپل ورور خيريت معلومونکي د پاره دي."[1] **(5)** د لاس ميلاوهلو په وخت درود شريف لولئ. د جدا کيدو نه مخکښې به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! مخکښې وروستو ټول ګناهونه اوبخښلے شي **(6)** د لاس ميلاوهلو په وخت درود شريف لولئ او که کولے شئ نو دا دُعا هم ورسره اولولئ: "يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ" ( الله پاک دې ما او تاسو اوبخښي) **(7)** دوه مسلمانان چې د لاس ميلاوهلو په وخت کومه دُعا اوکړي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! هغه به قبليږي او د لاس پريښودو نه مخکښې مخکښې به دواړه اوبخښلے شي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! **(8)** خپلو کښې د لاسونو ميلاوهلو سره دُښمني ختميږي **(9)** مسلمان ته په سلام کولو، لاس ميلاوهلو بلکه په مينه د هغه ديدن کولو سره هم ثواب ميلاويږي. حديثِ پاک کښې دي: څوک چې خپل مسلمان ورور ته په مينه اوګوري او د هغه په زړه کښې دُښمني نه وي نو د سترګو اړولو نه مخکښې به د دواړو تير شوي

---

[1] ... معجم اوسط، 380/5، حديث:7672

ګناهونه اوبخښلے شي.[1] **(10)** خو څله ملاقات وي، لاس ميلاوهلے شئ **(11)** نن سبا بعضې خلق يو يو لاس ميلاوهي بلکه صرف ګوتې يو بل سره لګوي دا ټول د سُنَّت خلاف دي **(12)** د لاس ميلاوهلو نه پس خپل لاس ښکلول مکروه دي.[2] که د يو بزرګ سره د لاس ميلاوهلو نه پس د برکت حاصلولو د پاره خپل لاس ښکل کړي نو مکروه نه دي، څنګه چې اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که د چا سره ئې مُصافَحَه اوکړه او بيا ئې د برکت د پاره خپل لاس ښکل کړو نو د مُمَانَعت څه وجه نشته خو چې د چا سره لاس ميلاؤ کړي چې هغه په هغه هستيانو کښې وي د چا نه چې برکت حاصليږي.[3] **(13)** که چرې د اَمرد (يعني ښکلي هلک) سره (يا د هر يو سړي سره) د لاس ميلاوهلو کښې شهوت راځي نو د هغوئي سره لاس ميلاوهل جائز نه دي بلکه که د کتلو سره شهوت راځي نو کتل ورته هم ګناه ده.[4] **(14)** د مُصافَحې کولو (يعني لاس ميلاوهلو) په وخت سُنَّت دا دي چې لاس کښې رومال وغيره مينځ کښې نه وي، دواړه د لاسونو تلي خالي وي او د لاسونو د تلي سره تلي ميلاوهل پکار دي.[5]

---

1 ... معجم اوسط، 131/6، حديث:8251

2 ... بهارِ شريعت، 472/3

3 ... جد الممتار، 65/7

4 ... درمختار، 98/2

5 ... بهار شريعت، 471/3

# د خبرو كولو په باره كښې 12 سُنَّتونه او آداب

(1) په مُسكي كيدو او وړونړ تندي سره خبرې كوئ (2) د مسلمانانو د زړه ساتلو په نِيَّت د وړو سره په شفقت او د لويو سره په ادب خبرې كوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ثواب به هم ميلاويږي او واړه او لوئ ټول به ستاسو عِزَّت كوي (3) په چغه چغه خبرې كول سُنَّت نه دي (4) په ښه ښه نِيَّتونو د ماشومانو سره هم "تاسو جناب " والا د خبرو عادت جوړ كړئ، ستاسو اخلاق به هم اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ښه وي او ماشومان به هم ادب زده كړي (5) د خبرو اَترو په وخت د پردې ځايونو (يعني اندام مخصوصه) له لاس وروړل، په ګوتو د بدن نه خِيرے لرې كول، د نورو خلقو په مخكښې بيا بيا پوزې له ګوتې وړل يا پوزه يا غوږ كښې ګوته وهل، لاړې تُوګل ښه خبره نه دهٔ، د دې نه نورو له كركه ورځي (6) تر څو پورې چې بل ګس خبرې كوي نو په اطمينان سره ئې اورئ، د هغه خبره كټ كول او خپله خبره شروع كول سُنَّت نه دي (7) خبرو اترو كښې بلكه يو حالت كښې هم په زوره مه خاندئ ځكه چې سركار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم نه دي خندلي (8) د زياتو خبرو كولو او بيا بيا په زوره د خندلو سره هَيبَت ختميږي (9) د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: "كله چې تاسو يو بنده اووينئ چا ته چې د دنيا د بے رغبتۍ او كمو خبرو نِعمَت وركړے شوے وي نو هغوئي ته نزدې شئ او

صحبت ئې اختيار کړئ، ځکه چې هغوئي ته حکمت ورکولے شي"[1] **(10)** د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: "څوک چې خاموش پاتې شو هغه نجات بياموندو."[2] په "مرآت شريف" کښې دي: حضرت سَيِّدُنا امامِ محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې د خبرو کولو څلور قسمونه دي: **(۱)** خَالِص مُضِر (مکمل طور نقصان ورکوونکې) **(۲)** خالص مفيد (مکمل طور فائده ورکوونکې) **(۳)** مُضِر (يعني نقصان ورکوونکې) هم او فائده ورکوونکې هم **(٤)** نه مُضِر نه مُفِيد. د خَالِص مُضِر (مکمل طور نقصان ورکوونکې) نه هميشه پرهيز ضروري دے، خالص فائده ورکوونکې خبرې خامخا کوئ، کومې خبرې چې نقصان او فائده دواړه ورکوي په هغې کښې احتياط کوئ، غوره ده چې نه ئې کوئ او د څلورم قسم خبرې وخت ضائع کول دي. دې خبرو (يعني څلور واړه خبرو) کښې فرق کول ګرانه خبره ده ځکه خاموشي غوره ده.[3] **(11)** د چا سره چې خبرې کوئ نو د هغې څه صحيح مقصد هم پکار دے او هميشه د مخاطب ګس د مزاج او نفسياتو مطابق دې خبرې اوکړے شي **(12)** د بد زبانۍ او بے حيائې د خبرو نه هر وخت ډېره کوئ، د کنزلو نه ځان ساتئ او ياد ساتئ چې يو مسلمان ته د

[1] … ابن ماجه،4/422، حديث:4101
[2] … ترمذی،4/225، حديث:2509
[3] … مرأة المناجيح،6/464 ملخصا

شرعي اجازت نه بغير كنزلي كول قطعي حرام دي.[1] او د بے حيائي خبرې كوونكي باندې جنت حرام دے. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: " په هغه كَس باندې جَنَّت حرام دے څوك چې فُحش خبرې كوي."[2] د فُحش خبرو معنىٰ دا ده: اَلتَّعْبِيْرُ عَنِ الْاُمُوْرِ الْمُسْتَقْبَحَةِ بِالْعِبَارَاتِ الصَّرِيْحَةِ يعني په شرمناكو اُمورو (د مثال طور د ګنده او غلطو معاملو) په صفا ټكو كښې ذكر كول.[3]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْن" د 17 حروفو په نسبت سره د پرنجي په باره كښې 17 سُنَّتونه او آداب

د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه فرامين مبارك: **(1)** د الله پاک پرنجے خوښ دے او اركمے ناخوښه.[4] **(2)** كله چې چا له پرنجے ورشي او هغه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اووائي نو فرښتې وائي: رَبِّ الْعٰلَمِيْن او كه چرې هغه رَبِّ الْعٰلَمِيْن اووائي نو فرښتې وائي: يَرْحَمُكَ اللّٰهُ يعني الله پاک دې په تا رحم اوكړي.[5]

1… فتاوٰی رضويه، 127/21ملخصا

2… كتاب الصمت مع موسوعة الامام ابن ابی الدنيا 204/7، رقم: 325

3… احياء العلوم، 151/3

4… بخاري، 163/4حديث: 6226

5… معجم كبير، 358/11، حديث: 12284

**(3)** د پرنجي په وخت سر ښکته کړئ، خُله پټه کړئ او آواز په قلاره اوباسئ، د پرنجي آواز اوچتول کم عقلي ده.[1] **(4)** په پرنجي راتلو اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وئيل پکار دي (په خزائن العرفان صفحه 3 د طحطاوي په حواله د پرنجي په راتلو د الله پاک حمد بيانولو ته سُنّتِ مُؤَكّده ليکلي دي).[2] بهتر دا دي چې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْن يا اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ اووائي **(5)** په اوريدونکي واجب دي چې فوراً يَرْحَمُكَ اللّٰهُ. (يعني الله دې په تا رحم اوکړي) اووائي، او دومره په زوره دې اووائي چې پرنجې کوونکے ئې پخپله واوري.[3] **(6)** د جواب اوريدو سره دې پرنجې کوونکے اووائي: "يَغْفِرُاللّٰهُ لَنَاوَلَكُمْ" (يعني الله پاک دې مونږه او تاسو اوبخښي) يا دې دا اووائي: "يَهْدِيْكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحْ بَالَكُمْ" (يعني الله پاک دې تا ته هدايت اوکړي او ستا حالت دې ښه کړي).[4] **(7)** خوک چې په پرنجي راتلو اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَال اووائي او خپله ژبه په ټولو غاښونو راښکاري نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم! د غاښونو د بيمارئ نه به محفوظه وي.[5] **(8)** حضرت مولائے کائنات، عَلِـيُّ الْمُرتَضٰـی رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فـرمائي: خوک چې په

1…ردالمحتار، 684/9

2…حاشية الطحطاوي علي المراقي، ص7

3…بهارِ شريعت، 476/3، 477ملخصا

4…عالمگيري، 326/5

5…مرآة المناجيح، 396/6

پرنجي راتلو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ عَلٰی کُلِّ حَالٍ اووائي نو هغه ته به د جامني د غابن او د غوږ درد چرې هم نه راځي.[1] **(9)** پرنجي کوونکي له پکار دي چې په زوره حمد اووائي چې دغه شان څوک ئې واوري او جواب ورکړي.[2] **(10)** د پرنجي جواب يو ځل واجب دے، که په دويم ځل پرنجے اوکړے شي او هغه اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ اووائي نو بيا جواب واجب نه دے بلکه مستحب دے.[3] **(11)** جواب به هغه حالت کښې واجب وي کله چې پرنجي کولو والا اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ اووائي او که حمد اونکړي نو جواب نشته.[4] **(12)** د خطبې په وخت چا له پرنجے راشي نو اوريدونکے دي د دې جواب نه ورکوي.[5] **(13)** که ډير اسلامي وروڼړه موجود وي او بعضي حاضرينو جواب ورکړو نو د ټولو له طرفه جواب اوشو خو غوره دا دي چې ټول جواب ورکړي.[6] **(14)** که چرې د ديوال شا ته چا پرنجے اوکړو او هغه اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ اووئيل نو اوريدونکے دي د دې جواب ورکړي.[7]

---

1…مرقاة المفاتيح، 499/8، تحت الحديث:4739
2…رد المحتار، 684/9
3…عالَمگيري، 326/5، بهارشريعت:476/3
4…بهارشريعت، 477/3
5…فتاوی قاضی خان، 377/2
6…رد المحتار، 684/9
7…رد المحتار، 684/9

**(15)** په لمَانځه کښې پرنجے راشي نو خاموشي اختيار کړئ او که اَلْحَمْدُلِلّٰهِ ئې اووئيل نو هم لمُونځ کښې څه حرج نشته او که هغه وخت ئې حمد اونکړو نو چې کله د لمَانځه نه فارغه شي نو اودې وائي.[1] **(16)** که چرې تاسو لمُونځ کولو او چا له پرنجے راشي او تاسو د جواب په نِيَّت اَلْحَمْدُلِلّٰهِ اووئيل نو لمُونځ مات شو.[2] **(17)** که چرې کافر له پرنجے راشي او هغه اَلْحَمْدُلِلّٰهِ اووائي نو په جواب کښې دې يَهْدِيْكُمُ اللّٰهُ (يعني الله پاک دې تا ته هدايت درکړي) اووئيل شي.[3]

## د اوده کيدو او راپاځيدو 15 سُنَّتونه او آداب

**(1)** د اوده کيدو نه مخکښې بستره ښه اوڅنډئ چې ضرر رسوونکے خزنده وغيره وي چې لرې شي **(2)** د اوده کيدو نه مخکښې دا دُعا اولولئ:

اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيَا

**ترجمه:** يا الله پاکه! زه ستا د نوم سره مرم او ژوندے کيږم (يعني اوده کيږم او راپاځم).[4] **(3)** د مازديګر نه پس مه اوده کيږئ د عقل تللو ويره ده. د رَسُولُ

---

1… عالمګيري، 98/1

2… عالمګيري، 98/1

3… رد المحتار، 684/9

4… بخاري، 196/4، حديث:6325

الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: ”څوک چې د مازدیګر نه پس اوده شي او د هغه عقل ځي نو هغه دې خپل ځان ښځپله ملامته کړي.“[1] (4) ماسپخین کښې قیلوله (یعني لږ وخت څملاستل) مستحب دي.[2] (5) د ورځې په وړومبۍ حصه کښې اوده کیدل یا د ماښام او ماسخُتن په مینځ کښې اوده کیدل مکروه دي.[3] (6) په اوده کیدو کښې مستحب دا دي چې په اوداسه کښې اوده شي او (7) لږ ساعت دې په ښي طرف ښي لاس د مخ لاندې کړې او قبلې په لور مخ کړې او اوده شي بیا د هغې نه پس په ګس (یعني کینړ) طرف.[4] (8) د اوده کیدو په وخت قبر کښې څملاستل یاد کړئ چې هلته به یواځې څملاستل وي، د خپلو عملونو نه علاوه بل هیڅ څیز به درسره نه وي (9) د څملاستلو په وخت د الله پاک په یاد کښې مشغول اوسیږئ، تَهْلِیْل و تَسْبِیح وتَحْمِید لولئ (یعني لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُلِلّٰهِ وِرد کوئ) تر دې پورې چې اوده شئ، چې په کوم حالت کښې انسان اوده شي په هغې راپاخي او په کوم حالت چې مړ کیږي د قیامت په ورځ به په هغه حالت کښې راپاخیږي.[5] (10) د راپاخیدو نه پس دا دُعا لولئ:

[1]... مسند ابو یعلی،278/4،حدیث:4897
[2]... عالمګیري،376/5،بهار شریعت،435/3
[3]... عالمګیري،376/5
[4]... عالمګیري،376/5
[5]... عالمګیري،376/5

”اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَآ اَمَاتَنَا ،وَ اِلَيْهِ النُّشُوْرُ“[1]

ترجمه: ټول تعريفونه الله پاک لره دي چا چې مونږه د مړه کولو نه پس بيا ژوندي کړو او د هغه طرف ته بيرته تلل دي. **(11)** هغه وخت دې دا کلک لوظ اوکړي چې پرهيزګاري او تقویٰ به کوي، څوک به نه ازاروي.[2] **(12)** کله چې د هلک او جينئ عمر لس کاله شي نو دوئي بيل بيل څملول پکار دي بلکه د دومره عمر هلک دې د دومره عمر هلکانو يا د دوئي نه د غټو سړو سره هم نه څملي.[3] **(13)** ښځه او خاوند چې کله په کټ کښې څملي نو د لسو کالو ماشوم دې د ځان سره نه اوده کوي، هلک چې کله د شهوت حد ته اورسي نو هغه د سړي په حکم کښې دے.[4] **(14)** کله چې د خوب نه رابيداره شئ نو مسواک کوئ **(15)** د شپې چې کله راپاځئ نو تَهَجُّد ادا کوئ دا ډير لوئي سعادت دے.

د رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: ”د فرضو نه پس افضل لمُونځ د شپې لمُونځ دے.“[5]

1…بخاري، 196/4، حديث:6325

2…عالمګيري، 375/5

3…درمختار ر دالمحتار، 629/9

4…درمختار، 630/9

5…مسلم، ص591، حديث:1163

## ”یارَبَّ المُصطفٰی د مکې و مدینې زیارت رانصیب کړې“

## د 35 حروفو په نسبت د سفر 35 سُنَّتونه او آداب

(1) شرعي طور مسافر هغه کَس دے کوم چې د دريو ورځو په فاصله د تللو ارادې سره د خپل مقامِ اِقامت مثلاً د ښار يا کلي نه بهر شي. په اوچه په سفر د دريو ورځو مزل نه مراد 57.50 ميله (يعني تقريباً 92 کلو ميټره) فاصله ده.[1] (2) د شرعي سفر کوونکي د پاره ضروري دي چې هغه سفر کښې راپيښيدونکي مسئلے زده کړې وي. (د مکتبةُ المدينه رسالې ” د مسافر لمُونځ“ لوستل فائده مند دي) (3) ”بخاري شريف“ کښې دي: رسولِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غزوۀ تبوک د پاره د زيارت په ورځ روان شولو او هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د زيارت په ورځ (په سفر) روانيدل خوښول“[2] (4) چې کله سفر کوئ نو غوره ده چې د ګل، زيارت يا خالي په ورځ ئې اوکړئ.[3] (5) خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت جُبَيۡرِبۡنُ مُطۡعِمۡ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ته د سفر کولو په وخت د خپلو ملګرو نه د خوشحاليدو د پاره د دې ورد کولو تلقين اوفرمائيلو: (١) سُوۡرَۃُالۡکٰفِرُوۡن (٢) سُوۡرَۃُ النَّصۡر (٣) سُوۡرَۃُالۡاِخۡلَاص

1…فتاوٰی رضویه، 243،270/8

2…بخاري، 296/2، حديث:2950

3…فتاوٰی رضویه ملخصا، 400/23

(٤) سُوۡرَةُالۡفَلَق (٥) سُوۡرَةُالنَّاس هر يو سورت يو يو ځل او د هر يو سورت نه مخکښې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم او د ټولو په آخر کښې يو ځل بِسۡمِ اللّٰه پوره اولولئ، (دغه شان به سورتونه 5 شي او بِسۡمِ اللّٰهِ شريف به شپږ ځل) حضرت جُبَيۡرِبۡنُ مُطۡعِم رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ فرمائي: هسې خو زه صاحبِ مال ووم خو چې کله به مې سفر کولو نو د خپلو ملګرو نه به په خوشحالئ کښې کميدم، بيان شوي سورتونه مې هميشه لوستل شروع کړل. د دې په برکت به د واپسئ پورې خوشحاله او دولت مند ووم.[1] **(6)** د روانيدو په وخت د ټولو خپلوانو او دوستانو سره ميلاؤ شئ او معافي ترې اوغواړئ او اوس په هغوئي لازم دي چې د زړه نه تاسو معاف کړي.[2] **(7)** د سفر جامې واغوندئ او کور کښې څلور رکعته نفل د اَلۡحَمۡدُ وقُلۡ (هُوَاللّٰه پوره سورت) سره اوکړئ. دغه رکعتونه به د بيرته راتلو پورې ستاسو د کور والا او مال حفاظت کوي.[3] **(8)** دوه رکعته هم ادا کولے شئ، حديثِ پاک کښې دي: "چا د خپل کور والؤ د پاره د دې دوو رکعتونو نه غوره څه نه دي پريښودي، کوم چې ئي د سفر د ارادې په وخت د هغوئي سره ادا کړه."[4] **(9)**

---

1... ابو يعلى، 265/6، حديث:7382 ملخصا

2... بهار شريعت، 1052/1

3... بهار شريعت، 1052/1

4... مصنّف ابن ابي شيبة، 529/1

په سفر کښې درې یا د دې نه زیات اسلامي ورونړه وي نو یو پکښې امیر جوړ کړئ چې دا سُنَّت دي. لکه څنګه چې په حدیثِ پاک کښې دي: "کله چې په سفر کښې درې کسان وي نو یو پکښې خپل امیر جوړ کړئ"[1] **(10)** دې (یعني امیر جوړولو) کښې د کارونو انتظام وي، سردار (یعني امیر) هغه کَس جوړ کړئ د چا اخلاق چې ښه وي، عقلمند دینداره وي، سردار (یعني امیر) له پکار دي چې د خپلو ملګرو آرام ته د خپل آرام نه زیاته ترجیح ورکړي (یعني د خپل آرام په ځائے د خپلو ملګرو آرام ته زیات اَهَمِّیَّت ورکړي).[2] **(11)** شیشه، رانجه، ګمنز او مسواک د ځان سره ساتئ ځکه چې دا سُنَّت دي.[3] **(12)** د اعلٰی حضرت والدِ محترَم مولانا مفتي نقي علي خان رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه لیکي: هغوئي (یعني نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) به سفر کښې **(1)** مسواک **(2)** رانجه **(3)** شیشه **(4)** ګمنز **(5)** قینچي **(6)** ستن او **(7)** تار د ځان سره ساتل.[4] یو بل روایت کښې **(8)** د تیلو الفاظ هم نقل شوي دي.[5] **(13)** په ذِکرُ الله کښې ځان مصروفه ساتئ چې فرښته به درسره وي، نه

---

1... ابو داؤد، 3/51، حدیث: 2609

2... بهارِ شریعت، 1/1052، 1051

3... بهارِ شریعت، 1/1052، 1051

4... انوار جمال مصطفٰی، ص160

5... سبل الهدی، 7/347

چې (غلطو) شعرونو او فضولو خيزونو کښې چې شيطان به درسره وي.[1]

**(14)** که چرته د دُښمن يا ډاکوانو ويره وي نو سورۀ "لِاِیۡلٰفِ" (پوره سورت) اولولئ، اِنۡ شَآءَاللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د هرې بلا نه به په امان کښې وئ. دا عمل مُجَرَّب دے.[2]

**(15)** که سفر وي يا حَضَر (يعني قيام) کله چې هم درته غم يا پريشاني راشي نو په کثرت سره لَاحَوۡلَ وَلَا قُوَّۃَ اِلَّا بِاللّٰہِ او حَسۡبُنَا اللّٰہُ، وَ نِعۡمَ الۡوَکِیۡل.[3] لولئ. اِنۡ شَآءَاللّٰہُ الۡکَرِیۡم! مُشکِل به آسان شي.

**(16)** په سفر کښې چې کله په بره خيژئ نو د "اَللّٰہُ اَکۡبَر"او د کوزيدو په وخت د سُبۡحٰنَ اللّٰہ ذکر کوئ

**(17)** که يو کَس په سفر روانيږي نو د مسافر سره مُصافَحه (يعني لاس ميلاؤ کړئ) او د هغه د پاره دُعا اوغواړئ. اَسۡتَوۡدِعُ اللّٰہَ دِیۡنَکَ، وَاَمَانَتَکَ، وَخَوَاتِیۡمَ عَمِلِکَ.[4]

**(18)** د مُقيم (يعني خوک چې مسافر نه وي د هغه ) د پاره دي مُسافِر دا دُعا اوکړي: اَسۡتَوۡدِعُکَ اللہَ الَّذِیۡ لَا یُضِیۡعُ وَدَائِعَهٗ.[5]

**(19)** په منزل

---

1…**فتاوٰی رضویه**، 729/10

2…**الحصن الحصين** ص79،80

3…**ترجمه**: د ګناه نه د بچ کيدو طاقت او د نيکئ طاقت د الله د طرف نه دے. مونږ لره الله کافي دے ، او ډير ښه کار ساز دے.

4…**الحصن الحصين**، ص79، 80

**ترجمه**: زه ستا د دين، ستا د امانت او ستا د عمل خاتمه په الله پاک سپارم.

5…**ابن ماجه**، 372/3، حديث:2825

**ترجمه**: زه تا الله پاک ته سپارم خوک چې سپارلے شوي امانتونه نه ضائع کوي.

(يعني چې چرته هم په لاره کښې اودريدل وي هلته) د کوزيدو په وخت دا دُعا لولئ: اَعُوْذُبِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ، مِنْ شَرِّمَا خَلَقَ.[1] اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم! د هر نقصان نه به بچ کيږئ.[2] **(20)** د مسافر دُعا قبليږي، ځکه د ځان د پاره، د خپل مور پلار، بچو او عامو مسلمانانو د پاره دُعا اوکړئ **(21)** سفر کښې چې يو کَس بيمار شي يا بے هوشه شي نو د هغه د سفر ملګري د هغه مريض ضرورتونو کښې د هغه مال بغير اجازته خرچ کولے شي.[3] **(22)** په مسافر واجب دي چې لمُونځ کښې قصر اوکړي، يعني څلورو رکعت والا فرض لمُونځ دوه رکعته اوکړي، د ده په حق کښې هم دوه رکعتونه پوره لمُونځ دے.[4] **(23)** د ماښام لمُونځ او وتر کښې قصر نشته **(24)** په سُنّتو کښې قصر نشته بلکه پوره به ادا کولے شي، د ويرې په حالت کښې سُنَّت معاف دي او د امن په حالت کښې به ادا کولے شي.[5] **(25)** کوشش کوئ چې هوائي جاز يا ريل يا بس وغيره کښې داسې وخت سفر کوئ چې په مينځ کښې د لمَانځه وخت

---

1… التيسير، 228/1

**ترجمه:** زه د الله پاک کامل کلمات (يعني کومو کښې چې څه نقص يا عيب نه وي) په وسيله د ټولو مخلوقاتو د شر نه پناه غواړم.

2… الحصن الحصين، ص82

3… ر د المحتار،334،335/9، بهار شريعت،222/3

4… بهارِ شريعت،743/1، عالمګيري،139/1

5… عالمګيري،139/1

را نه شي **(26)** په شفر کښې د اوده کيدو په وختونو کښې هيڅ کله هم داسې غفلت نه وي چې مَعَاذَاللهُ لمُونځ قضا شي **(27)** د سفر په وخت هم په لَمَانځه کښې هيڅ کله هم کوتاهي مه کوئ، خاص طور هوائي جاز، ريل ګاډي او د اوګږدو لارو بس کښې د لَمَانځه د پاره د مخکښې نه اودس تيار ساتئ **(28)** په لاره کښې چې بس خراب شي نو ډرائيور يا مالکان دې بس وغيره ته د کنزلو او ګډو وډو خبرو کولو سره خپل آخرت نه خرابوي بلکه د صبر نه دې کار واخلي او د جَنَّت په طلب کښې دې په ذکر او درود شريف لوستلو کښې مشغول شي، دا د ريل يا د جاز د فلائټ ليټ کيدو په حالت کښې کوئ. **(29)** په ريل، بس وغيره کښې د نورو مسافرو د ګاؤنډې توب د حق خيال ساتئ او د هغوئي سره ښه سلوک کوئ، بے شکه خپل ځان له تکليف ورکوئ خو هغوئي له آرام ورکړئ. **(30)** بس وغيره کښې په زوره د خبرو کولو او په زوره د خندا کولو سره نور مسافر په ځان مه بدګمانه کوئ. **(31)** په ګڼړه کښې چې کله يو ضعيفه او مريض مسلمان اووينئ نو د ثواب په نِيَّت هغه ته خپل سيټ پيش کړئ. **(32)** پوره کوشش کوئ چې د فلمونو او سندرو او باجو نه پاک بس يا ويګن کښې سفر کوئ. **(33)** د سفر نه په بيرته راتلو د کور والوؤ د پاره څه ډالئ راوړئ چې د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: ” کله چې د سفر نه يو ګس بيرته راشي نو د ځان

سره دي خپل کور والوؤ د پاره څه نه څه ډالۍ راوړي، هغه که په خپله لمَن کښې کانړي اچول ولې نه وي."[1] **(34)** د شرعي سفر نه بيرته راغلئ او مکروه وخت نه وي نو د ټولو نه وړومبے خپل جمات کښې او کله چې کور ته اورسيږئ هلته دوه رکعته نفل اوکړئ **(35)** د مسافر دُعا قبليږي.[2]

## "مسواک د مدينې د سرکار سُنَّت دے" د 22 حروفو په نسبت د مسواک 22 سُنَّتونه او آداب

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه فرامين: **(1)** دوه رکعته د مسواک کولو سره ادا کول بغير د مسواک نه د اوياؤ رکعتونو نه غوره دي.[3] **(2)** د مسواک استعمال د ځان د پاره لازم کړئ ځکه چې دا د خُلے د صفائي او د ربّ د رضا وجه ده.[4] **(3)** نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هره شپه څو څو ځله مسواک کولو، هر ځل د اوده کيدو په وخت هم او د راپاڅيدو په وخت به ئې هم مسواک کولو.[5] **(4)** د ښه نِيَّت نه بغير د مسواک کولو سره صحت ته فائدې رسي خو ثواب به نه ميلاويږي. د مثال طور که د اودس د پاره

1...ابن عساکر، 230/52

2...ترمذي، 280/5، حديث:3459

3...الترغيب والترهيب، 102/1، حديث: 18

4...مسند امام احمد، 438/2، حديث:8569

5...احياء العلوم، 1019/1

مسواک کوئ نو داسې درې نیتونه اوکړئ: د الله پاک د رضا، د سُنَّت ادا کولو او ذکر و درود د پاره به د خُلې پاك کولو په غرض مسواک کووم. **(5)** مشائخِ کرام فرمائي: څوک چې د مسواک عادت لري د مرګ په وخت به هغه ته کلمه وئيل نصيب کيږي او څوک چې افيم خوري د مرګ په وخت به ورته کلمه نه نصيب کيږي.[1] **(6)** د حضرت عبدُ الله ابن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: مسواک کښې لس خوبيانې دي: خُله پاك کوي، اوريځ مضبوطوي، نظر تيزوي، بلغم لرې کوي، د خُلے سخا بوئ ختموي، د سُنَّتو موافق دے، فرښتې پرې خوشحاليږي، الله پاک پرې راضي کيږي، نيکۍ زياتوي او معده صحيح کوي.[2] **(7) حکايت**: حضرت سَيِّدنا ابوبکر شبلي بغدادي رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه ته يو ځل د اودس کولو په وخت د مسواک ضرورت پيښ شو، وه ئې کتلو خو ميلاؤ نه شو، ځکه ئې په يو دينار (يعني د سرو زرو په يوه اشرفئ) مسواک واخستلو او استعمال ئې کړو. بعضې خلقو اووئيل: دا خو تاسو ډير زيات رقم خرچ کړو! آيا دومره ګران مسواک هم څوک اخلي؟ اوئې فرمائيل: بے شکه دا دُنيا او د دې ټول خيزونه د الله پاک په نظر کښې د ماشي د وزر برابر حيثيت هم نه لري، که چرې د قيامت په ورځ الله پاک

1...بهارِ شريعت، 1/288.
2...جمع الجوامع، 5/249، حديث: 14867

زما نه دا پوښتنه اوکړي نو څه به وايم چې ” تا زما د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت (مسواک) ولې پريښودو؟ کوم مال او دولت چې تاله ما درکړے وو د هغې حقيقت خو زما په نظر کښې د ماشي د وزر برابر هم نه وو، نو آخر داسې کم دولت دې په دې عظيم سُنَّت (مسواک) حاصلولو ولې خرچ نه کړو؟“[1] **(8)** سَيِّدنا امام شافعي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: څلور څيزونه عقل زياتوي: د فضول خبرو نه بچ کيدل، مسواک کول، د نيکانو خلقو سره ناسته پاسته او په خپل علم عمل کول.[2] **(9)** مسواک د پيلو يا زيتون (خونه) يا شنډئ وغيره تريخ لرګي دې وي **(10)** د مسواک غټ والے (يعني پيړوالے) دې د لاس وړوکې [يعني قچۍ] ګوتې برابر وي **(11)** مسواک د يوې لويشت نه زيات اوګړد نه دے پکار ګني بيا په دې شيطان کښيني **(12)** د دې ريشې دې نرمې وي ځکه چې سختې ريشې د غاښونو او اورو ترمينځه د فاصلې پيدا کولو سبب جوړيږي **(13)** که مسواک تازه وي نو بهتره ده ګني بيا ئې د لږ ساعت د پاره د اوبو په ګلاس کښې لوند کړئ چې نرم شي او بيا ئې استعمال کړئ **(14)** مناسب ده چې د دې ريشې هره ورځ کټ کوئ **(15)** د غاښونو په پلن والي کښې مسواک کوئ **(16)** کله چې هم مسواک

---

1… لواقح الانوار ملخصا، ص38

2… حياة الحيوان، 166/2

کوئ نو کم نه کم دريې ځله ئي کوئ **(17)** هر ځل ئي وينځئ **(18)** کله چې هم مسواک کول وي نو په ښي لاس داسې کوئ چې قچه ګوته د دې نه لاندې او د مينځ دريې ګوتې بره او غټه ګوته د دې په سر وي **(19)** اول د ښي اړخ په بره غاښونو، بيا د ګس اړخ په بره غاښونو، بيا د ښي اړخ په لاندې غاښونو او بيا د ګس اړخ په لاندې غاښونو مسواک کوئ **(20)** د موټې بندولو سره د مسواک کولو سره د بواسيرو کيدو انديښنه ده **(21)** مسواک په اودس کښې شامل نه دے، دا د اودس سنَّتِ قَبلِيه (يعني د اودس نه مخکښې سُنَّت) دے، البتّه سُنَّتِ مُؤَکَّدَه هغه وخت دے کله چې په خُله کښې سخا بوئ وي.[1] **(22)** مسواک چې کله د استعمال قابل نه وي نو غورځوئ ئي مه چې دا د سُنَّت ادا کولو آله ده، يو ځائے کښې ئي په اِحتياط سره کيږدئ يا ئي خخ کړئ يا ئي د کانړي وغيره وزن سره اوتړئ او سمندر کښې ئي ډوب کړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1…فتاوی رضویه ماخوذا، 623/1

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیك او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې كيدونكي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډكه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربيَت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د **"فِكرِ مَدِينه"** په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډكوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يكم تاريخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع كولو معمول جوړ كړئ.

زما مَدَني مقصد: **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح كوشش كول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په **"مَدَني انعاماتو"** عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د كوشش كولو د پار **"مَدَني قافِلو"** کښې سفر كول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ




فيضانِ مدينه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (كراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com